# توري چشمې

## (عینکې)



نې باوره ناول

لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

پېخلیک: وږی / کال ۱۴۰۷لېږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لیکي پوهه:

**سرلیک: تورې چشمې (عینکې)**

**لیکوال:** داکتر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**ایډېټور:**
**د پښتنۍ ډیزان:** داکتر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر: ۳۰**
**چاپ نېټه:** وږی / کال ۱۴۰۷
**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لړليک

**سرليک** **چوپړی**

پخښتی....................................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحيم ............................................... ۲
ليکي پوهه:.................................................................. ۳
لړليک ....................................................................... ٤
ترانې (پيل، شروع، بريد).............................................. ۵
د يادښتونو له پاره:........................................................ ۷
کيسه، داستان يا ناول: .................................................. ۸
د چاپ شويو کتابونو ليست........................................... ۵۶
د کار لاندې کتابونو ليست .......................................... ٦۱
د وخت او امکان په صورت کې....................................... ٦۲
د پخښتی څټ ............................................................ ٦۳

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ترانې (پيل، شروع، بريد)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل.
هغه د ذات يو هه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی.
عظمت، د تولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل يوه بل داستان (ناول، کيسه) چې په ګاونډ هېواد (ايران) کې تېره شوی، بيا کابل ښار ته رسېدلي، ورروسته اروپا ته غزېدلي او تر اوسه هم الته روانه ده، د خپلو کتابونو مينوالو او لوستونکو سره ګډ (شريکه) کړم.
زما د کتابونو مينه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، او نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مينه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما ديته اړ کړي چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې پېژنو.

زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښنه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره شريکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په درنښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تورې چشمې**

**..............**

## د يادښتونو له پاره:

۱- ........................................................................

۲- ........................................................................

۳- ........................................................................

۴- ........................................................................

۵- ........................................................................

۶- .......................................................................

۷- ........................................................................

۸- ........................................................................

۹- .......................................................................

۱۰- .....................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کیسه، داستان یا ناول:**

هغه پوره ۲۳ کاله د مخه په یوې افغانې کورنۍ مګر ګاونډ هېواد (ایران) کې سترګې دې نړۍ ته خلاصې کړې.

هغه ډېره ښکلې، غټې شنې بخونې سترګې، اوږدې وروځې، اوچته (جګه) پوزه، سرې شونډې، تور وېښتان، سپین ګرد مخ د سپوږمۍ په شان درلودل.

هغه سپینه مینه وه.

ډېر ژر په ټولو ګرانه شوه.

پلار او مور یې کوښښ وکړ تر څو هغې ښکلې ته، ښکلی نوم ومومي.

څو ورځې تېرې شوې، خو هغوی کوم ښه نوم ورته و نه موند.

بله ورځ هم تېره شوه.

مور یې په کوټې کې ناسته وه او کړکۍ نه یې غولي(حوېلۍ) ته کتل.

په غولي (حوېلۍ) کې ښکلي او ښایسته ګلان ښکارېدل.

په ګلانو کې یوه ګل تر ټولو ښکلی وه.

د هغه ګل نوم پروین و.

هغې و غوښتل چې دا نوم پر خپلې لور کېږدي.

په دې وخت کې انجلۍ موسکۍ شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مور يې و خندل.

هغې ته يې مخ را واړاوه او ويې ويل:

ته لکه هغه ګل ښايسته يې، زه غواړم پر تا هم د دهغه ګل نوم کېږدم.

لمړی غواړم ستا د پلار سره هم دا نوم ګډ کړم تر څو هغه هم راځي او خوشحاله وي.

د هغې پلار په دندې کې وه.

غرمه شوه، بيا مازيګر شو.

هغه د کار نه ستړی راغی او کوټې ته د ننه شو.

ښځې ته يې سلام واچاوه.

هغې هم د خپل مېړه سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا يې د هغې نه وپوښتل:

جلۍ څنګه ده؟

هغې و ويل:

تر اوسه ښه ده.

ښځې يې خپل مېړه ته و ويل:

تا ورته کوم ښه نوم وموند؟

هغه و ويل:

نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library


مګر زما ملګري او دوستان د فاطمې نوم خوښوي.

ښځې یې و ویل:

د فاطمې نوم خورا ډېر دی.

زمونږ د ګاونډ لور هم فاتمه نومېږي.

زه غواړم هغې ته یوه نوی نوم و مومم.

داسې نوم چې ډېر لږ او ښایسته نوم وي.

بیا مېړه یې و ویل:

تا ورته کوم نوم خوښ کړی دی؟

هغې و ویل:

تر اوسه مې کوم ښه نوم ورته نه دی موندلی.

هغه لکه ګل ښکلې ده.

ښه به دا وي چې پر هغې د یوه ګل نوم کېږدو.

بیا یې و ویل:

ما نن د حویلۍ ګلانو ننداره کوه.

یوه ګلالی ګل مې خوښ شو.

غوښتل مې چې د هماغه ګل نوم پرې کېږدم.

له ځانه سره مې و ویل:

ښه به دا وي چې له تا سره یې هم ګډ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېدای شی ستا هم خوښ شي.

هغه و پوښتل:

د ګل نوم څه دی؟

هغې و ویل:

د ګل نوم پروین دی.

هغه و ویل:

ښکلی نوم دی.

زما هم خوښ شو.

په ریښتیا هم زمونږ لور د هغه ګل په څېر(شان) ښایسته ده.

د دې له پاره چې هغه کوشنۍ ده، مونږ به ورته پرو و وایو.

بیا مېره یې زیاته کړه.

زه ډېر ستړی یم.

حمام ته ځم او الته خپل مخ او لاس مینځم، بیا به راشم.

ښځې یې و ویل:

سمه ده!

هغه حمام ته لاړ.

مخ او لاس یې تازه کړ.

بیا یې پښې پرېمنځې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لمړی دهلیز بیا کوټې ته د ننه شو.

پر توشکې کښېناست.

بیا یې تلوېزیون روښانه کړ.

بالښت یې هم تر څټ (شا) کښېښود او تکیه یې پرې وکړه.

بیا ښځې یې و ویل:

سړیه!

په ترموز کې تود چای شته.

پیالې هم پاکې دي.

ځان ته دې چای واچوه.

هغه له ځایه پاڅېد.

الماری ته نږدې شو.

خپله پیاله یې را واخیسته.

بیا یې ترموز هم ځانته نږدې کړ.

په پیالې کې یې، چای واچوه.

بیا یې له ښځې نه و پوښتل:

خوږه لرو.

هغې و ویل:

هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوږه لرو.

مېږه يې و پوښتل:

خوږه چېرې ده؟

هغې و ويل:

هغه هم د الماری په پورتنۍ برخې کې ده.

هغه له ځايه پاڅېد.

الماری خوا ته روان شو.

د الماری دروازه يې خلاصه کړه.

بيا يې د خوږې کندانی (قنداني) را واخيست.

د الماری دروازه يې بېرته پورې او خپل ځای ته روان شو.

پر توشکې کښېناست او د تلويزيون په ننداره شو.

ښځې يې و ويل:

د تلويزيون غږ لږ ټيټ کړه.

پرو به راويښه کړې.

هغه و ويل:

سمه ده!

بيا له ځايه پاڅېد او تلويزيون ته نږدې شو.

د تلويزيون د غږ ګوتکه يې تاوه او غږ يې ټيټ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا بېرته خپل ځای کې کښېناست او بر بالښت یې ډډه (تکیه) واچوه.

چای یې پیالې کې واچاوه.

د کنداني سر یې خلاص او خوږه یې هم خولې ته واچوه.

بیا چای یې ورپسې غړپ کړ.

هم یې د تلویزیون ننداره کوه او هم یې چای څښه.

په خوند، خوند یې دوې پیالې چای وڅښه.

بیا یې ښځې ته و ویل:

ډېر مزه داره چای دی.

تا ته یې هم واچوم؟

هغې و ویل:

نه!

مننه کوم!

ما ستا د راتګ نه مخکې، چای و څښه.

اوس مې زړه ته، نه کیږي.

بیا مېږه یې له ځایه پاڅېد، کنداني یې راواخیست او الماری ته نږدې شو.

د الماری دروازه یې خلاصه او کنداني یې بېرته پر خپل ځای کښېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د الماری دروازه یې پورې (بنده) او خپل ځای ته روان شو.

پر توشکې کښېناست.

په دې وخت کې، ملا د ماښام آذان وکړ.

هغه له ځایه پاڅېد او تلویزیون ته نږدې شو.

د تلویزیون ګوتکه یې تاوه او هغه یې مړ کړ.

بیا د اودس له پاره حمام خونې ته روان شو.

اودس یې وکړ.

څند وروسته بېرته کوټې ته ستون شو.

جای نماز یې اوار او پر لمانځه یې پیل کړ.

لمونځ یې ادا کړ، بیا تلویزیون ته نږدې او هغه یې بېرته روښانه کړ.

بیا خپل ځای ته لاړ او پر توشکې کښېناست.

هغه تلویزیون په ننداره پیل کړ.

په تلویزیون کې د ماشومانو خپرونه وه.

هغه خپلې ښځې ته و ویل:

کاشکې پرو هم لږ غټه وای، اوس به یې د ماشومانو پروګرام ننداره کوه.

ښځې یې و ویل:

ته سوچ مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه به ډېر ژر، د ګل په څېر(شان)غټه شي.

هسې انجونې ژر غټېږي او بل کور(خاوند، مېړه) ته مېلمه کېږي.

هغه و خندل او څه يې و نه ويل.

اوا (هوا) نوره هم تياره شوه.

هغه د خونې برېښنا روښانه کړه.

پرو هم د ګل په څېر بيده وه.

مور يې پرې څادر غوړولی و.

د پرو نيا چې د خپلې لور مرستې ته راغلې وه، پخلنځي کې پر پخولو بوخته وه.

هغې د شپې ډوډۍ تياره کړه او بيا يې خپلې لور ته و ويل:

ډوډۍ تياره ده.

څه وکړم؟

لور يې و ويل:

رايې وړه، چې ويې خورو.

هسې شپې لنډې دي.

ژر، سبا کېږي.

مور يې و ويل:

ته رښتيا وايې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تاسو لاسونه پرېمينځئ، زه به ژر کتغ او ډوډۍ راوړم.

هغوی لاسونه پرېمنځل.

پرو نيا دسترخوان اوار او ډوډۍ يې پرې کښېښوده.

بيا يې د کتغ کاسې او غابونه پر دسترخوان کېښودې.

زوم ته يې و ويل:

ته پر خوراک پيل کړه.

زه ناروغې ته يخنی تودوم.

زوم يې و ويل:

سمه ده!

هغه پر خوړو پيل کړ.

خواښې يې پخلنځي ته لاړه او د ناروغې يخني ښوروا يې توده او په کاسې کې يې واچوه.

يوه غټه کاچوغه يې هم په کاسې کې کېښوده او کوټې ته يې د ننه کړه.

کاسه يې د ناروغې مخې ته کښېښوده.

بيا يې هغې ته ډوډۍ هم نږدې کړه.

هغې په خوړو پيل کړ.

بيا هغه بېرته پخلنځي ته لاړه او ځان ته يې په کاسې کې کتغ واچاوه او کوټې ته د ننه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغوی ټولو په خوند اوخوشحالۍ سره ډوډۍ وخوړه.

دستر خوان ټول بیا تود چای راوړل شو.

چای هم په خوند سره و څښل شو.

ماسخوتن ناوخته شوه.

بیا ځایونه اوار او ټول بیده شوو.

پرو خو له ورایه بیده وه.

څه ځنډ وروسته له خوبه پاڅېده او مور یې ورته شیدې ورکړې.

بیا هغه بېرته بیده شوه.

هغه ډېره آرامه انجلۍ وه.

پرو ورو، ورو غټېده، مور او پلاربه یې ورته، خوشحالي کوې.

څه وخت تېر شو.

هغه لږ لویه شوه.

په خپوړو راغله.

بیا څه ځنډ وروسته په لخچک او شپږ میاشتې وروسته په درېدو(ودرېدو) شوه.

بیا په لارې تګ یې پیل کړ.

په دې وخت کې یې لکه ښارو خبرې کوې.

هغه نوره هم، په ټولو ګرانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه طوطي به يې خبرې کوې.

لږ، لږ به يې منډې هم وهې.

نوره هم لويه شوه.

هغه ډېره نامنوې (شوخه) وه.

په کوڅې کې يې ملګري و موندل.

د کور نه باندې به وته.

د خپلو همزولو سره به يې خبرې او لوبې کوې.

د هغې مينه د رسامۍ سره ډېره وه.

هغې به د کاغذ په سپينو پاڼو کې، رسمونه کاږل(ويستل).

کله به يې مېوې، ونې او ودانۍ وېستې.

او کله به يې د کوشنيو الکانو او انجنو رسمونه کاږل (ويستل).

هغې ته خداى ښکلا او استعداد ورکړی و.

هغه نوره هم لويه او د ښوونځي شوه.

پلار او مور يې هغه د سيمي په ښوونځي کي چې ډېری يې ايرانيان او لږ برخه يې افغان مهاجر وو، ګډه (شامله) کړه.

ښوونځی ډېر لرې نه و.

کله به يې مور او کله به يې پلار تر ښوونځي پورې، رسوه.

هغه په لارې بلده شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خدای هغې ته وروړ ور په برخه کړ.

هغه هم د پرو په څېر(شان) آرامه او ښکلې و.

پرو په ښوونځي کې ډېر ملګري وموندل.

بیا به د هغوی سره ښوونځي ته، تله او بېرته راتله.

هغې ایرانی فارسي یاده کړه.

هغې به په سبقونو کې کوښښ کاوه.

مور او پلار یې هم د هغې سره مرسته کوه.

هغه په ښوونځي کې مخکې شوه.

ښوونکو به هم هغه په ډالیو نازوه.

د هغې مینه د کورنو په رسمولو کې ډېرېده.

ښوونکو به هغې ته ویل:

ته د کورنو په رسمولو کې مینه او استعداد لرې.

ته باید تکړه معماره شې.

هغې به د نازه خندل او څه به یې نه ویل.

هغې لمړنۍ زده کړې پای ته ورسوې.

بیا تخنیکي لېسې کې ګډه (شامله) شوه.

البته یې د تخنیکي مضامینو سره مینه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کورنۍ او ښوونکو به هغه معمارۍ ته هڅوه، تر څو په راتلونکي کې تکړه معماره شي.

هغې ښوونځي په لوړو نمرو بشپړ کړ او بیا په معمارۍ کې یې لوړې زده کړې پیل کړې.

هغې څه نا څه لوړې زده کړې وکړې.

په هېواد کې د بهرنیانو حکمروایي وه.

کارونو او دندې خورا ډېرې وې.

هغې خپلې کورنۍ سره مشوره وکړه، تر څو کار وکړي.

کورنۍ یې و ویل:

مونږ به کوښښ وکړو د ستا له پاره مناسبه کار و مومو.

هغې و ویل:

سمه ده!

بیا هغې هم په خپله، هڅې پیل کړې.

د کار موندنې اعلانونه به یې کتل.

البته (ایران کې) دندې لږې وې.

د پرو کورنۍ خپلو دوستانو او خپلوانو سره، تګ او رتګ درلود.

هغوی به ویل:

اوس هېواد کې کارونه خورا ډېر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښه به وی چې هېواد ته لاړ شوو.

د پرو کورنۍ به ویل:

ستاسو خبره ریښتیا ده.

خو!

مونږ دلته عادت کړی دی.

دلته دندې لرو.

په څه خواریو دلته راغلو.

بیا به هېواد ته لاړ شو.

بهرنیان هسې د هېواده وځي.

هیواد کې نارامی ده.

هرې خوا جګړې دي.

لږ مو ماغزه په کرار شوي دي.

ښه به وي، لږ نور هم صبر وکړو.

یوه ورځ پرو و ویل:

زما له پاره دندې ډېرې دي.

ښه به داوي چې هېواد ته لاړ شوو.

پلار یې و ویل:

زمونږ سیمه نا امنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


څرنګه الته ژوند وکړو؟

پرو ويل:

مونږ به په کابل کې ژوند وکړو.

پلار يې و ويل:

الته مونږ کوم کور او يا د اوسېدو ځای نه لرو.

هغې و ويل:

الته به، کرايي کور ونيسو.

پلار يې و ويل:

دا کار ستونزمن دی.

دلته زه او د ستا مور دندې لرو.

الته زمونږ له پاره دندې به نه وي.

څومره به د دندو له پاره وګرځو؟

بيا ببرته راتګ هم ګران دی.

هغې و ويل:

ما د ځان د پاره دنده موندلې ده.

زه غواړم هېواد ته لاړه او الته کار وکړم.

پلار يې و ويل:

کابل کې زمونږ نږدې خپلوان نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پر بېګانوو، اعتماد سخت دی.

کاش، ته الک وای.

ته خو ښکلې انجلۍ یې.

بیا هغې و ویل:

زه یوازې نه یم.

زما څو خورڼو هم ځانو ته، کارونه موندلی دی.

مونږ به، یوه ځای ژوند و کړو.

د ورځې به کار ته ځو او د شپې به په یوه ځای کې اوسیږو.

بیا مور یې و ویل:

سمه ده!

خو ډېر احتیاط به کوې.

هغې و ویل:

سمه ده!

بیا یې مور ته و ویل:

لوی بکس لرو؟

مور یې و ویل:

هو بکس خو شته مګر لږ زوړ دی.

هغې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


کومه ستونزه نه شته.

بیا مور یې بکس تش کړ او پرو ته یې ورکړ.

پرو بکس واخیست او شاو وخوا یې پر ټوکر باند پاک کړ.

بیا یې خپل کالي او نور اسباب (وسایل) په کې کېښېښودل.

بکس سر یې بند کړ.

بیا یې مور ته و ویل:

کوم کلف لرو چې بکس کلف کړم.

مور یې و ویل:

نه!

مور یې د هغې نه و پوښتل:

کله حرکت کوئ؟

هغې و ویل:

لږ صبر وکړه له ملګرو نه وپوښتم.

هغې غوږکی راواخیست او خپلې خوررڼې ته یې زنګ و واه.

خوررڼې یې غوږکی پورته او اړیکې ټینګې شوې.

د سلام او علیک نه ورسته پرو وپوښتل:

زما کورنۍ موافقه وکړه چې زه هم کابل ته لاړه شم.

کالي او بکس مې تیار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


څه وخت کابل ته ځو؟

هغې و ویل:

زه به د نورو انجونو نه پوښتنه وکړم، بیا به لږ ځنډ وروسته تا ته زنګ و وهم.

پرو و ویل:

سمه ده!

زه ستا په انتظار یم.

بیا یې د هغې سره خدا پاماني وکړه او غوږکی یې بند کړ.

څو دکیکې لا نه وې تېرې شوې چې په غوږکی کې، زنګ راغی.

پرو غوږکی را پورته او هغه یې روښانه کړ.

خورږني یې سلام ورکړ.

پرو هم د هغې سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا یې زیاته کړه.

ما د ټولو انجنو سره خبرې وکړي.

ټول پلان لري چې سبا نه بل سبا ته د کابل تکټ واخلو او درېیمه ورځ کابل ته لاړ شوو.

پرو و ویل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا ښه کار شو.

زه به سبا ته د بکس له پاره کلف او څه نور روغتیایی اسباب واخلم.

خورزنې یې و ویل:

سمه ده!

بیا به په غوږکې کې یوه بل ته خبر ورکړو.

پرو مننه وکړه او غوږکی یې بند کړ.

بیا یې خپلې کورنۍ ته و ویل:

زه د تګ له پاره پوره وخت لرم.

سبا به بازار ته لاړه شم او د بکس له پاره به کلف او څه روغتیایی اسباب واخلم.

پلار یې و ویل:

سمه ده!

بیا یې د هغې مور ته و ویل:

ته پرو ته د کلف او روغتیایی اسبابو پیسې ورکړه.

زه به هغې د تکټ، نورو شیانو او د کابل د اوسېده د یوې میاشتې خرچه (مصارف) پیسې له بانکه راوباسم.

ښځې یې و ویل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا هغه الماری ته لاړه او د الماری کښتینۍ حصه یې خلاصه او پیسې یې ترې واخیستې.

پیسې یې وشمېرې او بیا یې څه پیسې ترې را ببلې او پرو ته یې ورکړې.

نور یې بېرته پر خپل ځاي، د ورځنۍ خرچې ته کښېښودې.

پرو ډېره خوشحاله شوه.

د مور او پلار نه یې مننه وکړه.

شپه شوه.

د شپې دوډۍ وخوړل شوه او بیا چای هم و څښل شو.

پرو وختي بیده شوه.

هغه سهار له خوبه پاڅېده.

مور او پلار یې کار ته تللي وو.

ورور یې ښوونځي ته تللی و.

هغې د خپل ځان د پاره چای دم او هغه یې و څښه.

بیا یې جامې بدلې کړې.

وروسته یې خپلې خورږنې ته زنګ و واهه.

بیا یې هغې ته و ویل:

زمونږ تر کوره راشه!

(c) ketabton.com: The Digital Library


نيمه ګړۍ تېره شوه.

خوررڼه يې ورسېده.

دروازه يې وټکوه.

پرو دروازې ته لاړه.

دروازه يې هغې ته خلاصه او د چاى ست يې وکړ.

خوررڼې يې مننه وکړه او هغې ته يې و ويل:

راځه چې ځو.

بيا اوا ګرمېږي.

زه هم د خپل ځان د پاره څه شيان اخلم.

پرو و ويل:

سمه ده!

يوه شېبه !

زه خپله کڅوړه (دستکول) واخلم بيا به يوه ځاى لاړ شوو.

خوررڼه يې د دروازې تر څنګ ودرېده او پرو دالان ته د ننه شوه.

خپل بوټونه يې بدل، کڅوړه يې اوږې ته واچوه او دروازې خوا ته روانه شوه.

بيا دواړه د دروازې نه و وتې.

پرو دروازه بنده او کلف کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغوی څه لاره په پښو لاړې بیا موټر ته وختې او ښار ته لاړې.

الته یې سوداوې واخیستې او بېرته کور ته ستنې شوې.

وخت غرمه وه.

پرو کتغ تود او داوړو په خوند و خوړ.

بیا خوررڼې یې و ویل:

زه کور ته ځم.

څه نور شیان سره سم او په بکس کې به یې کېږدم.

پرو و ویل:

سمه ده!

بیا یې د پرونه خدای پاماني واخیسته او خپل کورته روانه شوه.

ورځ تېره شوه.

د هغې مور او پلار هم کور ته ستانه شوو.

پلار یې د بانک نه پیسې اخیستې او پرو ته یې ورکړې.

هغې د خپل پلار نه مننه وکړه.

شپه تېره او سبا شو.

پرو هم د خپلو خوررڼو سره ټکټ خرڅلاو ته لاړه، ټولو د کابل ټکټ واخیست او هر څوک خپلو کورونو ته ستانه شوو.

ماښام شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پرو پلار او مور هم کور ته ستانه شوو.

ورور يې مازيګر وختي کور ته راغلی و.

پرو د برنډې په کونج کې، ولاړه وه.

هغې د خپلې خورړنې سره په غوږکي کې خبرې کوې.

د هغې پام، غوږکي کې وه.

مور ته يې پام نه و.

مور يې هغې ته غږ کړ.

د چا سره خبرې کوې؟

هغې لمړی خپلې مور ته سلام واچوه.

مور يې د هغې سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا هغې و ويل:

د خپلې خورړنې سره، خبرې کوم.

مور يې کوټې ته د ننه شوه.

د هغې خبرې بشپړې شوې.

غوږکی يې بند کړ.

پرو هم کوټې ته د ننه شوه.

مور يې و پوښتل:

تکټ دې وپېره (واخيست).

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغې و ویل:

هو مورې!

تکټ مې وپېره.

مور يې بیا و پوښتل:

څه وخت الوتنه لرئ؟

هغې و ویل:

سبا وختي.

مور ته يې ژړا ورغله.

هغې خپل مخ وګرځاوه او په دسمال يې اوښکې پاکې کړې.

د پرو ورته پام نه و.

بیا يې پرو ته و ویل:

په ترموز کې چای شته؟

هغې و ویل:

نه!

ما او ورور مې و ځبنه.

اوس دستی به پر برېښنا اوبه و ویشوم او تازه چای به، دم کړم.

مور يې و ویل:

خیر یوسې!

(c) ketabton.com: The Digital Library


خدای دې کامیابه لره.

پرو د کوټې نه و وته او پخلنځي خونې ته لاړه.

الته یې چای دم او بیا یې کوټې ته راوړ.

پلار یې پر توشکې ناست او د تلوېزیون ننداره کوه.

هغې لمړی خپلې مور ته واچاوه.

بیا چایجوش یې پلار ته، نږدې کښېښود.

الماری ته نږدې او درې پیالې یې را کښته کړې.

بیا یې پیالې د چای سره کنګال او بلې پیالې کې یې واچوې.

وروسته یې په ټولو پیالو کې چای واچاوه.

لمړۍ پیاله یې پلار، دویمه یې خپل ورور ته کېښودې.

بله یې د ځان سره نږدې کېښوده.

بیا ولاړه او د الماری نه یې د خوږې کندانې (قندانې) واخیست او د چایجوش خوا ته یې کښېښود.

د کندانې سر یې خلاص کړ او ویې ویل:

کولای شئ خوږه هم واخلئ.

پلار یې مننه وکړه.

چای وڅښل شو.

بیا مور یې پاڅېده تر څو د شپې له پاره، خواړه پاخه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغې د چای پياله ډکه کړه او له ځانه سره يې، پخلنځي ته يوړه.

ګړې يې الته تېره او دشپې له پاره يې خواړه پاخه کړل.

بيا يې پرو ته غږ کړ.

پرو لورې!

پرو لورې!!

هغې غږ کړ:

څه وايې مورې؟

مور يې و ويل:

کتغ پوخ دی.

لاسونه پرېمنځه او دسترخوان اوار کړه.

هغې و ويل:

سمه ده!

هغې د لاس اوبه راوړې او د خپل پلار او ورور په لاسونو يې واچوې.

بيا يې دسترخوان اوار او ډوډۍ يې پرې کښېښوده.

مور يې هم کتغ په غابونو کې و وېشه (واچاوه).

کتغ يې کوټې ته د ننه او پر دستر خوان يې کښېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرو ولاړه شوه او د پخلنځي نه يې د اوبو لوښی (جګ) راواړل او هغه يې هم پر دسترخوان کښېښود.

ډوډۍ په خوند سره پيل شوه.

مور يې ډېره خپه وه.

هغې د شپې ډوډۍ لږه وخوړه.

مېړه يې و ويل:

د پرو مورې!

نن شپه دې ډوډۍ لږه وخوړه.

ناروغه خو به نه يې؟

هغې و ويل:

نه!

ناروغه نه يم.

هسې لږ خپه يم.

مېړه يې و ويل:

مه خپه کيږه.

پرو اوس لويه شوې ده.

ډېره هوښياره ده.

هغه د خپل په ښه او بد ښه پوهيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


له بل پلوه هغه يوازې نه ده.

د هغې سره يې خورڼي هم شته.

هغوی به د ورځې کار کوي او د شپې به ځانوته کتغ هم کوي.

وچه ډوډۍ به له نانوايي څخه اخلي.

يوازې ورته دعاوې کوه.

هغې و ويل:

سمه ده!

په دې وخت کې پرو ته زنګ راغی.

هغې غوږکي واخيست او خبرې يې پيل کړې.

بيا خورڼې يې و ويل:

سبا وختي اوايي ډګر ته راتلی شې؟

هغې و ويل:

هو!

بيا خورڼې ته و ويل:

ښه به دا وې چې ته، ټکسي موټر ونيسې او زمونږ کور خوا ته، راشې.

زه به و وځم او خپل بکس به په ډاله کې کيږدم، بيا به يوه ځای لاړ شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوررڼې يې و ويل:

سمه ده!

وختي بيده او سهار وخته له خوبه اوچته (جګه) شه.

پرو و ويل:

سمه ده!

بيا يې د پرو نه خداى پاماني واخيسته او غوږکی يې بند کړ.

په دې وخت کې پلار يې و ويل:

ته وختي بيده شه.

زه به وختي تا له خوبه راويښه کړم.

هغې ومنه او بيده شوه.

پلار يې دشپې چندان خوب و نه کړ.

وختي پاڅېد او پرو يې هم د خوبه پاڅوه.

هغې خپل مخ او لاسونه پرېمنځل.

پر بکس يې لاس کش کړ.

ټول شيان په بکس کې ول (وو).

بيا يې بکس کلف او کلې يې په کڅوړې کې واچوې.

په دې وخت کې د موټر غږ شو.

دکور دروازه وټکېده (وهل شوه).

(c) ketabton.com: The Digital Library


پلار يې دروازې ته لاړ.

دروازه يې خلاصه کړه.

د پرو خورڼني د موتر کړکۍ نه سر و باسه او هغه ته يې سلام واچاوه.

هغه هم د هغې سلام ته وعليکم و ويل.

بيا هغې و پوښتل:

پرو تياره ده؟

هغه و ويل:

هو!

يوازې يوه دکيکه!

هغې و ويل:

ستونزه نه شته.

د پرو پلار کورته دننه شو، بکس يې په لاس کې واخيست او د تکسې ډالې کې يې، کښېښود.

په دې وخت کې د پرو مور او ورو هم د خداى پامانۍ له پاره دروازې ته روان شوو.

مور يې يوه بدنۍ له اوبو ډکه او دروازې ته لاړه.

دروازې نه د باندې يې د پرو او هغې خورڼې سره يې خداى پاماني وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه يې په غېږ کې ونيوه او څو ځل يې په سر مچ کړه.

بيا پرو د خپل پلار او ورور نه هم، خدای پاماني واخيسته او موټر ته د ننه شوه.

بيا مور يې غږ کړ.

کوم وخت چې کابل ته ورسېدې مونږ ته زنګ و وهه.

هغې و ويل:

سمه ده!

حتماً زنګ وهم.

تکسي چلونکي موټر چالان کړ.

بيا ورو، ورو يې حرکت وکړ.

د پرو مور هغوی پسې اوبه وشيندې.

سترګې يې د اوښکو ډکې او لږ يې وژړل.

هغوی ټول دروازې څېت (شا) ته ولاړ وو.

موټر پسې يې کتې تر څو موټر د سيمې نه پنا شو.

بيا هغوی خپه، خپه کور ته د ننه او دروازه يې وتړه.

ګړی وروسته هغوی اوايي ډګر ته ورسېدې.

التة نورې خوررڼې يې هم په انتظار وې.

هغوی تر ټولو د مخه رسېدلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا ټولې سره یوه ځای شوې.

په خندا او خوشحالۍ سره اوایې ډګر ودانۍ ته د ننه شوې.

خپل بکسونه یې په کتار (قطار) کې کښېښودل او د تلاشۍ نه وروسته یې مسول کس ته وسپارل تر څو الوتکې ته یې، د ننه کړي.

بیا هغوی خپله، ودانۍ سالون ته د ننه شوو.

پر څوکیو کښېناستل تر څو د هغوی د ختلو وار (نوبت) راشي.

ګړۍ وروسته غږ شو.

د کابل الوتکې کسان دې سالون نه د باند او په بس کې وخېږي.

هغوی ته الوتکه په انتظار ده.

هغوی ټولې ودرېدې او د سالون نه د باندې شوې بیا په موټر کې وختې.

موټر هم روان او د الوتکی زینو سره جوښت (نږدې) ودرېد.

بیا د الوتکې میلمه پال (سټیوردیسې) غږ کړ:

د کابل مسافر دې را پورته شي.

هغوی هم الوتکی ته پورته شوو.

مسافرپه خپلو ځایونو کښېناستل.

د الوتکې دروازه وتړل شوه.

بیا څو دکیکې وروسته الوتکه لمړی د ځغاست لیکې بیا اوا ته اوچته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوې ګړۍ وروسته الوتکه د کابل په نړیوال ډګر کې راکښته شوه.

هغوی د لاربنوونې سره اوايي ډګر ودانۍ ته د ننه شوو.

پرو او د هغې خورړونو ځانو ته د افغانستان سیم کارټونه و پېرل.

بیا یې خپلو کورنیو سره اړیکې ټینګې کړې.

پرو هم د خپلې مور سره خبري کړې.

دا د پرو او د هغوي خورلړنو لمړی اوايی سفر و.

پرو نوې ځوانه شوې او ډېره ښکلې وه.

په څو ورځو کې یې په ښه ځای کې دنده و مونده.

هغه به د ورځې دندې ته تله او ماښام به د خورړونو ځای ته تله.

هغې به ښې جامې اغوستې او په حجاب کې به دندې ته تله.

کله به یې د پرتوګ پرځای کوبای پطلون هم اغوسته.

هغې ښه اخلاق درلود.

هغې به په ښې او پسته ژبې خبرې او پوښتنو ته ځوابونه ویل.

ورسپارل شوې دندې به یې په ښې توګه تر سره کوې.

هغه ورځ تر بلې په خپل مسلک کې، تکړه کېده.

هغې د ټولو سره ښه چلند درلود.

څه کوشنۍ پروژې یې هم بشړې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه به د کاري سيمې ته، د نورو معمارانو سره تله، البته به يې اندازې اخيستې او بيا به يې په دفتر کې د کمپيوټر په مرستې، تر سره کوې.

هغه هم په ښکلا او هم په دندو کې مشهوره شوه.

ځينې ځوانان به د هغې ننداريې له پاره په يوه او بله پلمه تلل.

ځينو د هغې نه څه مسلکي پوښتنې کوې، هغې به په ورين تندي پوښتنو ته، ځوابونه ويل.

په دندې کې يې خوږژنې و موندې او د هغوی سره به يې کله ناکله خبرې هم کوې.

د دندې نه وروسته به لوی سړک (پاخه سړک) ته، تله او د موټر انتظار به يې کوه.

هغې په ليدو سره به ډېر موټرچلونکي د هغې خوا ته درېدل او هرچا به ويل:

راځه!

زه به دې ورسوم.

مګر هغه به آرامه ولاړه او هغوی ته به يې نه کتل.

يوه تودې موټر والا به هغه تر دندې رسوه او بيا به يې د اوسېدو سيمې ته لېږدوه.

هغه کس هم د هغې سره په دندی کې يوه ځای ولې په بل رياست کې يې دنده تر سره کوه.

کس هم د پرو د اوسېدو ځای ته څېرمه اوسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


څه وخت تېر شو.

په هېواد کې حالات وران (خراب) شوو.

بهرنيو ځواکونو د وتو اعلان وکړ.

هرې خوا د طالبانو حملې پيل شوې.

کله به سيمو او کله به ولسواليو سقوط کاوه.

خلک هک پک پاتې وو.

شتمونو او د جمهوريت لوړپولو چارواکو هم په بېړه بېړه پلمو ځانونه تېښتې ته چمتو کول (برابرول) او له هېواد څخه به وتل.

نظامي غونډونه او قطعې به د طالبانو لاس ته، ورتلې.

په هېواد کې سم غوبل روان وو.

ورو، ورو ولايتونه هم د طالبانو لاسونو ته ورغلل.

بهرنی ياني امريکايي ځواکونو خپل ځانونه تېښتې ته چمتو کول.

جمهوريت جنرالان هم په تښتېدو شوو.

جګړو زور واخيست.

طالبانو ډېری ولايتونه و نيول.

بيا يې کابل ولايت ته مخه وکړه.

کابل ښار کلا بند شو.

د هرې خوا نه حملې پيل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د غرمې وخت شو.

د جمهوریت کارکونکي، په خپلو دندو بوخت وو.

بېلا بېلې (رنګارنګ) آوازې شوې.

چا به ویل:

طالبانو پلچرخي زندان ونیو او ټول بندیان یې د بنده نه خلاص کړل.

چا به ویل:

طالبان کمپنۍ بازار ته ورسېدل.

ټول خلک په وېره کې وو.

ماسپښین شو.

جمهور ریس هم کابل ته شا او خپلې پښې سپکې او له هېواده و تښتېد.

نورو چارواکو هم ځانونه تېښتې ته چمتو کړل.

ځیني د پارلمان غړو ګاونډ هېواد یاني پاکستان ته په الوتکې کې وتښتېدل.

دفترونه رخصت او کارکونکي خپلو کورونو خوا روان شوو.

سړکونو کې، د موټرو ګڼه ګونه وه.

هر چا به کوښښ کاو خپلو کورونو ته ځان ورسوي، تلویزیون او راډیوګانو ته غوږ شي.

لارې بندې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


چا چې خپل (شخصي) موټر درلودل، خپلو موټرو سره په سړکونو کې بند پاتې وو.

او ا(هوا) لړه تياره شوه.

ماښام نږدې شو.

خلک وارخطا له يوې خواوو نه بلې خواوو ته ځانونه، رسول.

ماسخوتن شو.

بيا ناوخته شوه.

شاوخوا چوپه چوپتيا وه.

طالبان کابل ته د ننه شوو.

لمړی يې ځانونه نظامی بيا وروسته يې ملکي ادارو ته، ورسول.

سهار شو.

هرې خوا د طالبانو ګزمې پيل شوې.

هغوی پر ټول هېواد قبضه ټينګه کړه.

عمومي ښننه (عفوه) يې اعلان کړه.

چا د چا سره، کار نه درلود.

چوپه چوپتيا وه.

خلک د کورو نه، نه وتل.

لوی دکانونه او مغازې ټولې بندې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


جمهوریت عسکرو او منسوبینو خپلې ملکلي جامې (کمیس او پرتوګ) واغوستل او هر یو خپلو سیمو خوا راوان شوو.

هر چا به کوښښ کاوه ژر، ژر ځانونه خپلو کورونو ته، ورسوي.

په اوایی (هوایی) ډګر کې د ننه، امریکایانو ګزمې کوې.

د هغو شمېره تر اووه زرو هم ډېره وه.

غټې الوتکې په کښته کېدو شوې.

هغوی لمړی خپل ملکي وګړي او بیا پخوانیو افغان کارکونکو ته پیغامونه ورکړل تر څو اوایي ډګر ته ځانونه ورسوي.

بهرني ملکونو وګړو هم خپل ځانونه اوایې ډګر ته ورسول.

پر الوتکو هېڅ وار(نوبت) نه و.

هر چا به کوښښ کاوه تر څو ځانونه اوایي ډګر ته ورسوي او الوتکو کې کښېني.

د اوایي ډګر شاوخوا طالبانو څارنه او ګزمې کوې.

خلک به پر کانکرېټي دېوالونو پورته کېدل او د ننه به یې ځانونه رسول.

سخت او بد حالت و.

چا به خپل ماشومان امریکایي عسکرو ته ورکول چې د دیوال نه یې اوایي ډګر ته د ننه او بیا وروسته خپله هم د ننه شي.

ډېری خلک د پښو لاندې شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


څه مړه او څه هم ټپيان شوو.

يوه به تر بل ځانونه مخکې کول.

د چا سره اسناد او د چا سره به د برېښنا بلونه وو.

هر يوه به کوښښ کوه تر څو الوتکو ته، وخېږی.

چا به نه کتل چې الوتکه روغه ده که نه؟

ملکی ده او که نظامي.

خلک به د الوتکو په وزرو ختل.

چا به په انجن او چا به په ټايرو کې ځانونه نيول او د الوتو په وخت کې به له الوتکو ولېدل او مړه کېدل.

پرو هم د مفته تګ خبره واورېد.

په خوارئ سره يې ځان اوايي ډګر ته ورساوه.

بيا يې خپلو دوستانو او همکارانو سره اړيکې ټينګې کړې.

له هغوی يې هم و غوښتل تر څو اوايي ډګر ته راشی.

هغه لږ، لږ په انګرېزئ هم پوهېده.

ځان يې د بهرنيو دروازې ته ورساوه او د هغوی يې وغوښتل تر څو اوايي ډګر ته د ننوتو اجازه ورکړي.

هغه د اوايی ډګرختيځه دروازه وه.

الته ګڼه ګونه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټېله ټمبه هم خورا ډېره وه.

هغې خپل ځان د بارون (باران) هوټل ته ځېرمه کوم چې د امریکایانو استخباراتی اډه (ځای) و، ونیو.

د ودانۍ شاو او خوا ډېری ملکي بهرنیان وو.

هغه د شپې د خوا وتوانېده ختیزې دروازې ته ځان نږدې کړي.

د بهرنیانو په مرستې اوایي ډګر ته، ننوته.

بیا د الوتکو خوا ته لاړه.

د هغې سره په سلګونو کسان، نور هم وو.

الوتکې به تلې او راتلې.

څه ځنډ وروسته، ختیزې دروازې ته ځېرمه، چاودنه وشوه.

په چاودنې کې تر څوارلسو پورې امریکایي عسکر او تر دووسوو ډېر افغانان و وژل.

په دې چاودنې کې د ملکی افغان ټپیان تر ځلوروسوو هم ډېر وو.

التبه نږدې د اوبو لښتی هم و.

لښتی په وینو سور وو.

ځایي خلکو ټپیان په لاس ګاډوکې د سیمې و ویستل.

هغوی یې نږدې روغتونو ته ورسول.

جمهوریت هم هسې نوی لړنګ شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په اوايي ډګر کې د ننه د الوتکو شور ماشور و.

څوک نه پوهېدل چې له کومې خوا راځي او کومې خوا ته ځي.

ټولې الوتکې نظامي او امريکايی وې.

پرو هم په ټېله او تمبه يوې الوتکې ته د ننه شوه.

د ننه يوې خوا ته آرامه کښېناسته.

په لسګونو نور کسان هم الوتکې ته، د ننه شوو.

څنډ وروسته الوتکه د ځغاست ليکې ته لاړه.

څو ثانې يې پر ليکې منډې کړې.

بيا اوا ته، اوچته شوه.

هېڅوک نه پوهېدل چې الوتکه چېرته ځي.

د الوتکې د ننه کسانو خوشحالۍ کوې چې له هېواده په وتو دي.

څو ګړۍ تېرې شوې.

شپه سبا شوه.

الوتکه مخ په کښته کېدو شوه.

الوتکې شيشې نه درلودې.

څوک نه پوهېدل چې کوم هېواد دی.

چا به ويل امريکا او چا به ويل کانادا ته ورسېدو.

الوتکه د ځغاستې پر ليکې ښکته شوه او د اوايي ډګر ودانی خوا لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


الته ودرېده .

د الوتکې دروازه خلاصه شوه.

یوه نظامي کس خلکو ته و ویل:

اروپا ته ښه راغلاست.

د الوتکی نه ورو، ورو د بانې شئ.

د لار ښوونکو لارښوونو ته، غوږ شئ.

بیا یوه نظامي کس په انګرېزی خبرې پیل کړې.

ډېری خلک، په ژبې نه پوهېدل.

بیا یې یوه کس وموند کوم چې تر نورو په انګرېزی ژبې ښه پوهېده.

کس به انګرېزي ویله او ژباړونکي به د هغه وینا ژباړله.

هغوی ټول تر څلور سو کسانو نه هم ډېر وو.

په هغو کې ښځې ، سپین ږیري او ماشومان وو.

هغوی ولاړشوو.

ټول خوشحاله ښکارېدل.

بس موټر ورسېدل.

هغوی نږدې خپل او خپلوان به یوه ځای او په یوه موټر کې ختل.

ټول موټر ډک شوو، بیا یې حرکت پیل کړ.

د اوایي ډګر څخه و وتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هریوه به د موټرو شیشو نه ننداره کوه.

چا به ودانیو او چا به لوحو ته کتل.

د لوحو توري انګریزۍ ته ورته، مګر انګریزی نه وه.

دا کومه بله اروپایی ژبه وه.

موټر ټول یوه پندغاړي ته ورسېدل.

الته د موټرو تم ځای کې ودرېدل.

بیا یوه کس راغی.

خلکو ته یې و ویل:

ورو، ورو له موټره کوز شئ.

ټول کوز شوو.

بیا یې هغوی ته و ویل:

ټول سره حلقه شئ.

خلک سره حلقه شوو.

بیا یې په وار(نوبت) سره په لویو خیمو کې سره و وېشل.

هر کس خپلو خیمو ته د ننه شو.

دېخوا، اخوا کښېناستل.

لږ ځنډ وروسته هغوی ته خوراکي توکي او اوبه راوړل شوې.

ټول تږي او وږي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خوراکي توکو او اوبو لاسته راوړو سره، ډېر خوشحاله شوو.

بیا یې په خوړو پیل کړ.

څو ورځې تېرې شوې.

څه خلک یې په هوټلونو کې ځای پرځای کړل.

پرو هم په دې ډله کې وه.

څه کالي او نور ورځني روغتیایی اسباب ( وسایل) یې هم پر مهاجرو و وېشل.

بیا یې هغوی ته د ژبې درسونه پیل کړل.

میاشت تېره شوه.

هغوی لږ، لږ سمیزې خبرې یادې کړې.

بیا هغوی تر څو مترو پورې د ګرځېدو اجازه تر لاسه کړه.

البته پر حجاب بندیز و.

چا نه شو کولای چې له حجاب سره وګرځي.

پرو خوشحاله وه.

لمړی یې خپل پوړنی (څادر، ټیکری) له سره لرې کړ.

بیا یې حجاب کوټې الماری کې کښېښود.

د باندې به سر توري وته.

ورو، ورو یې جامې هم بدلون و موند.

(c) ketabton.com: The Digital Library


...............

اوږد پطلون یې لنډ او تر زنګنو هم اوچته شو.

د کمیس نستوړي یې هم لنډ شوو.

البته اوږدې جامې نه وې.

هغه هم خوشحاله وه.

کال تېر شو.

هغې لږ ژبه یاده کړه.

بیا به اخوا دېخوا ګرځېده.

کال بل هم تېر شو.

هغې د مجازی نړی سره اړیکې ټینګې کړې.

د انستاګرام غړې شوه.

څه خپل انځورونه یې ګډ کړل.

خلکو او د هغې پخوانیو همکارانو ورته پام شوو.

هر یوه به په خپل وار سره، د هغې انځورونه خوښول (لایک کول) او کښنته کول.

هغه هم خوشحاله وه چې لیدونکې یې ورځ تر بلې ډېرېږی.

جامې یې ورو، ورو اروپاي شوې.

خپل ویښتانو ته یې هم رنګ ورکړ.

لمړی یې خرمایی بیا یې ژېړ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه به پارکونو ته، تله او الته به يې د اروپاي جامو سره انځورونه اخيستل او بيا به يې د خپل د انستاګرام پر پاڼې اچول.

خوښونکي يې ډېرېدل.

هغه ورځ تر بلې بدلېده.

کله به سينما او کله به د شپې نڅا کلوپ (ډانس کلپ) ته، هم تله.

په لمړيو څو ورځو کې الته کښېناسته او د نڅا ننداره به يې کوه.

اوسېدو ځای ته به تله.

الته به يې ټيپ يا تلويزيون روښانه کاوه.

هم به يې د نڅا ننداره او هم به يې په خپله نڅا زده کوه.

اروپايي نڅا يې هم زده کړه.

بيا به د نورو انجنو سره نڅا کلوپ (ډانس کلپ) ته، تله او الته به يې د انجنو سره نڅل.

لمړی به يې د انجو سره نڅل.

بيا ورو، ورو د الکانو بلنې ته يې هم، هو ويل.

اروپايي نڅا يې ښه زده کړه.

بيا يې د خپلې نڅا لنډ فلمونه هم اخيستل او په خپل انستاګرام پاڼې ايښودل.

هغه دې کار ته خوشحاله وه.

هغه نوې ځوانه شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوچ یې کاوه چې همدا ژوند دی.

ځان یې اروپایي بوله (باله).

څه ځنډ وروسته یې د تابعت درخواست ورکړ.

بیا یې په درخواست کې خپل پلار، مور وروور او خور هم ګډ کړل، تر څو هغوی هم و توانیږي اروپا ته لاړ او د هغې په څېر ژوند وکړي.

د انځورونه داسې ښکاري چې هغه غواړي موډله شي.

هغه اوس لږ (نیمې) بربنډې جامې ( کالی) اغوندي، توري چشمې په سترګو کوي.

هغه د موډلي په شان عمل (اکت) کوي.

په دري ژبې کې یوه ډېر څرګند او مشهوره متل دی چې وایي:

**با ما نشینی (بنشینی) ما شوی - با دیگ نشینی سیاه شوی**

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د چاپ شويو کتابونو ليست

١. معماری افغانستان
٢. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
٣. راهنمود طلايي
(برای اساتيد انستيتوت های تخنيکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد اول
٥. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
٧. معماری اصيل شهر کابل (مرادخانی)
٨. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
٩. افغانستان در قرن تکنالوژی
١٠. زونبندی اقليم و زلزله افغانستان
١١. صدقه جاريه / دنيای انجينری
١٢. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
١٣. داستان حقيقی با مقياس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاوير مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
١٧. بنيا نگذاری اولين مساجد توسط افغانها در آسترليا
١٨. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارئ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۹. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګرۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګري ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د یوې میاشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library


٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنی سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٧٤. توده برسنن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [دیارلس کلنه فلسطینی انجلی تر نړېدلې ودانی (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتي / چوب ادبی
٨١. د ښاروالی کاریګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عینک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زیر خاک (نزدیک معدن مس عینک)
٨٤. ساختمان های کانتینری
٨٥. کانتینري ودانی

(c) ketabton.com: The Digital Library


٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلې هوسۍ (پښتو کيسه)
٨٨. خړه بيزو(پښتو کيسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)
٩٠. سپين کارغه (پښتو داستان)
٩١. لېونی لېوه (پښتو داستان)
٩٢. بندي مرغه (پښتو داستان)
٩٣. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
٩٤. ملا نصرالدين سره د دوکې پايله (پښتو ناول)
٩٥. د پوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)
٩٦. د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانۍ معماري
٩٧. ناکامه مينه (پښتو ناول)
٩٨. سنګلاخ دره او معماري
٩٩. عشق در کانتينر ها (ناول به زبان دری)
١٠٠. مادل اندازه گيری اسلامی
١٠١. په ګاونډ هېواد کې زړه بايلل (پښتو ناول)
١٠٢. بازی ها وسپورت های محلی مردم افغانستان - جلد اول
١٠٣. منار های غزنی – گذشته و حال
١٠٤. توريٍ چشمي (عينکې)پښتو ناول

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کار لاندې کتابونو لیست

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د وخت او امکان په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Black Glass

## Unbelievable novel

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: August – September / 2028

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**